شهسوارسنګروال ۲۰۱۹/۰۹/۰۳

# امریکا باید د«بن» غمیزه راغبرګه نه کړي

هغه مهال،چې امریکاوغوښتل له طالبانوسره مخامخ خبرې پیل کړي،ددوشنبې ورځ1397کال دچنګاښ 25مه،چې د2018کال دجولاې له16مې سره برابره وه ،نیویارک ټایمزاوسپیدني مارنینګ هیرالډورځپاڼویه یوه راپورکي دامریکاپه ستراتیژي کي وروستی بدلون دافغانستان داوږدي جګړې دپایته رسوولولپاره یوه بله هڅه پیل کړه .
ولسمشرټرمپ خپلوجګپوړوچارواکواودیپلوماتانوته سپارښتنه وکړه،چې له طالبانوسره دمخامخ خبروهڅه وکړي ...امریکاله دې دمخه ددرې اړخیزوخبروړاندیزکړی وو،خوطالبانوځکه ونه مانه،چې ټینګار یې په دې وو،چې له کابل سره نه،بلکې غواړودواشنګټن له اداري سره وغږیږو...ولې له دینه دمخه مایک پامپیوله ډله ییزورسانیوسره ویلي ووامریکاحاضره ده،چې دافغانستان دحکومت اوطالبانوترمینځ خبروکي ګډون وکړي .
نیویارک ټایمزورځپاڼي ددې خبرې پخلی وکړ،چې دامریکا استازی له دې دمخه پاکستان ته تللی وواوپه دې هیله چې دامریک اوطالبانوترمینځ دمخامخ خبروزمینه برابره کړي ...بیا جګپوړي دیپلوماتې ؛الیس ولز؛په همدې تراوسپمه کي خوورځي تېرې کړي،دافغانستان اوپاکستان له موهموچارواکوسره یې خبرې وکړې .
ددې تولوخبروپاپله داشوه،چې دطالبانواوامریکایي استازوترمینځ خبرې په رسمي بڼه پیل شوې ،چې دجولاې په 21مه(2018)دطالبانویوه مرکچي ان،بي،سي نیوزخبري اژانس ته وویل،چې طالبانواوامریکایانوګډې خبرې کړیدي اوداخبرې په داسې مهال وشوې،چې دوه ورځې دمخه دامریکا هوایي ځواکونودکندوزپه چاردرې ولسوالۍ خونړي بریدونه کړي وو .
دجولاې په18مه دطالبانویوه لوړرتبه چارواکي معتصم اغاداومنله،چې په قطرکي له امریکایي چارواکوسره خپلې ابتدایي خبرې کړیدي .
دجولاې په 23مه دالیس ویلزپه مشرۍ په دوحه کي دطالبانوله سیاسي استازوسره خبرې وکړې اودطالب استازومشرشیرمحمدستانکزي وړاندیزوکړ،چې نومونه یې له تورلست نه لرې شي اودقطردفترپه رسمیت وپیژني دامریکا دبهرنیوچاروو‌زیرپامپیو،وروسته له دې لیدنواوکتنونه وویل،چې له دې وروسته به زلمی خلیلزاددامریکا دبهرنیوچاروو‌زیردځانګړي سلا کارپه توګه دافغان حکومت اوطالبانوترمینځ دسولې دخبرورهبري وکړي ...
زلمي خلیلزاد نه9پړاوه خبرې له طالبانوسره دافغانستان دسولې په تړاوترسره کړې...اوداوس یې دسولې دهوکړې وروستی متن له ځان سره کابل ته راوړی دی،چې له تولوخواووسره شریک کړي ...مسوده یې دلوستلولپاره ورکړې ،خومسوده یې ورته نده سپارلې،چې له ځان سره یې وساتي ...تردې وړاندې نوموړي ددې خبرې پخلی کړی،چې دهوکړې متن به لومړی ټرمپ لولي اوبیا به لاسلیک کیږي ...
افغان ولس په دې هیله،چې په افغانستان کي سراسري سوله ټینګه شي،نه داچې یوځل بیا دبن غمیزه راغبرګه شي .همداخلیلزادوو،چې هغه مهال یې دبن په کنفرانس کي دطالبانوپه ځواک سترګې پټې کړې ...اوهمداکرزی وو،چې ملاعمرتري دسیاسي پلوریالیزم غوښتنه وکړه اودواړودامریکا دخوشحالولولپاره وویل،طالبان ترهګردي...!؟
ددې لپاره چې تېرې تېروتنې اواتلس کلنه غمیزه بیا راغبرګه نشي اوداوډول خونړۍ پېښې دافغاناوژوندونه ګواښي،یوځل دبن پریکړوته سرورښکاره کوواوځوبېلګوته یې تم کیږو:

۱- د بن کنفرانس و پتیله چې د لنډ مهاله اداري مشرتابه باید د ډسمبر په ۲۲ نیټه (۲۰۰۱ کال) واک ترلاسه کړي.
۲-د لنډ مهالي اداري رهبري له یوې لنډ مهالي اداري نه جوړه ده چې د رییس لخوا اداره کیږي.
۳-یو ځانګړي خپلواک کمیسون به هم بیړنی لویې جرګې ته لار پرانیزي او همدا ډول ستره محکمه به د لنډ مهاله اداري لخوا مینځته راځي.
٤-په رسمي توګه د واک له لیږد سره جوخت، لنډ مهاله اداره به ډېر ژر د هېواد چارې په غاړه اخلي، په دې ډول به د ملګرو ملتو چوکۍ اشغلوي، د نورو بهرنیو اړیکو نماینده ګي او په ټوله کي په نړیوال کنفرانسونو کي برخه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۵-د شپږو میاشتو په موده کې به بیړنۍ لویه جرګه جوړیږي د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه لخوا به پرانستل کیږي او بیا به دغه جرګه د یوه انتقالي مقام رهبري ټاکي چې یوه پراخ بنسټه انتقالي اداره را مینځته شي. د تصویب له نیټې وروسته دغه اداره به د دوه کالو په موده کې یوه نماینده حکومت ته چې د اذادو ټاکنو لخوا به مینځته راځي لاره پرانیزي.
۶-د لنډ مهالي اداري مقام به هغه مهال خپل کار پای ته رسوي چې د لویې جرګې لخوا، انتقالي اداره مینځته راشي.
۷-د انتقالي اداري لخوا به د اتلسو میاشتو په موده کې لویه جرګه را بلل کیږي چې د اساسي قانون په تسوید کې برخه واخلي، خو د دې بهیر لپاره به د دوه لومړنیو میاشتو په موده کې د ملګرو ملتو په مرسته د اساسي قانون د تسوید یو کمیسون هم جوړیږي.
له دې سربیره د قضایي سیستم قانوني جوړښت د نوي اساسي قانون تر جوړېدو تر لنډ مهاله پېره له هغو تعملاتو به استفاده کوي چې د انتقالي اداري له موافقو سره په ټکر کې نه وي... نو په دې بنسټ د افغانستان قضایه قوه خپلواکه ده (۵) ستره محاکمه او د محکمو نوري څانګې چې دانتقالي اداري لخوا جوړیږي، د قضایي قوې برخه ګڼل کیږي.
په دې تړاو، د ملګرو ملتو په مرسته، انتقالي اداره به یوه قضایي کمیسون ته دنده وسپاري چې کورنی قضایي سیستم د اسلام د سپیڅلي دین په رڼا کې د ملګرو ملتو د معیارونو مطابق جوړ کړي.
بیا د افغانستان په باره کې د ملګرو ملتو او د غونډې ګډونوالو له علیحضرت محمد ظاهر شاه څخه وغوښتل چې د لنډ مهالي اداري ریاست په غاړه واخلي. ولې هغه و نه منله.
پدې لړ کې دې ټکي ته هم ګوته ونیوله شوه چې د لنډ مهالي اداري هیڅ غړی نشي کولی چې د لویې جرګې د بیړنی غونډې په جوړولو کې د کمیسون غړیتوب تر لاسه کړي.
د لنډمهالي اداري رییس او یا د ده په غیابت کې د ده مرستیالان کولی شي غونډه جوړه کړي او بیا د غونډې اجنډا مجلس ته وړاندې کړي... پرېکړې به د رایو په اکثریت کیږي.
لنډ مهاله اداره واک لري چې د سولې، نظم او د ښې اداري لپاره فرمانونه صادر کړي.
لنډ مهاله اداره واک لري چې پولي سستم ورغوي او نوې پیسې چاپ او خپرې کړي.
لنډ مهاله او انتقالي اداره به د ملګرو ملتو په مرسته د مهمو چارواکو لست او نوملړ برابر کړي چې په مهمو دندو لکه والیان، ولسوالان او نورو اداري مقاماتو لپاره وګماري چې د مرکزي بانک په شمول د هېواد ټولې چارې ښې سنبال کړي.
همدا راز د بشر د حقوقو او د هېواد د نظم او ښې اداري لپاره هم زمنه وشوه او دا هم ور زیاته شوه که څوک سرغړونه وکړي جزا به ور کړ شي.
د افغانستان د سیاسي حل لپاره د هغو افغانانو، نوملړ چې د ملګرو ملتو د استازو په ګډون د یو لړ پرېکړو لپاره را ټول شوي ول، دا دی:
ستار سیرت، امین ارسلا، عبدالرحیم وردګ، میرمن افضلي، سید حسین انوري، سید حامد ګیلاني، رحمت الله موسی غازي، عبدالحکیم، همایون جریر، عباس کریمي، مصطفی کاظمي، عزیز الله لودین، احمد ولي مسعود، اصف محسني، محمد اسحق نادري، محمد ناطقي، عارف نوازي، یونس قانوني، زلمی رسول، میرویس صادق، محمد جلیل شمس، همایون تندر، سیما ولي، عزیز الله واصفي، پاچا خان ځدران.
له افغانانو سربېره د ملګرو ملتو استازي لخدر ابراهیمي هم ګډون درلود.
ملګرو ملتو د لنډ مهالي اداري په بهیر کې خپل یو استازی د افغانستان د روان بهیر لپاره وټاکه، چې له موافقه لیک نه څارنه وکړي.
ده د بیړنی جرګې د جوړېدو کار هم څاره او د بشر د حقوقو چارې هم. دغه استازي ښوونېزې او روزنیزې چارې د ټولنیز شعور د ودې او پرمختګ لپاره غوره ګڼلي او وخت ناوخت به یې لنډ مهالي اداري ته سلا ورکوله.
د همدې کسانو په شتون کې (۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر پنځمه) د کنفرانس غړو د یوه مصلحت له مخې حامد کرزی د مؤقتي حکومت د رییس په توګه وټاکه.
پداسې حال کې چې د المان صدر اعظم، لخدر ابراهیمي او یو شمېر نور بهرنیان حاضر ول، دغه سند لاسلیک شو.
د دې سند له لاسلیک نه وروسته د افغانستان په سیاسي تاریخ کې یوه نوې سیاسي ژوند ته لاره اواره شوه.

## بیړنی لویه جرګه :

د افغانستان خلکو د بن کنفرانس نه د ښو هیلو تمه درلوده ولې پېښو وښوده چې ښې پایلې ترلاسه نکړې، داسې کسان یې واک ته ورسول چې د کابل په خپلمینځي جګړو کې ښکېل ول.
که څه هم د بن کنفرانس د ملګرو ملتو د عمومي منشي کوفي عنان په پیغام پرانستل شو، د ملګرو ملتو استازي لخدر ابراهیمي او د المان د بهرنیو چارو وزیر هم ویناوې وکړې، له ټولو خوا وو وغوښتل شول چې د افغانستان د سیاسي او اقتصادي ودې لپاره له دغه فرصت نه ګټه واخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه څرنګه چې د بن په کنفرانس کې د ملت ریښتینو استازو او د هېواد ناپیلو کسانو برخه نه وه اخستې، دا رنګه د بېړنۍ لویې جرګې د رابللو په کمېسون کې هم تر ډېره بریده د هېواد ملي شخصیتونو او د خلکو خواخوږو ونډه نه درلوده.
بیا هم تخنیکي چارې داسې پیل شوې چې د بېړنۍ لویې جرګې د رابللو خپلواک او ځانګړی کمیسون باید د مؤقتي حکومت له جوړېدو یوه میاشت وروسته جوړ شي.
کمیسون چې باید د یو شمېر علمي بنسټونو له مخې جوړ شوی وی جوړ نشو، خو بیا هم یو کمیسون چې ۲۱ غړي یې درلودل، د همدې موخې له مخې چې بېړنۍ لویې جرګې ته کوم ډول کسان را وبلل شي په کار پیل وکړ.
ټولو خواوو په خپلې وروستۍ پرېکړې د هېواد د اساسي قانون د تسوید په هکله د بېړنۍ لویې جرګې د رابللو لپاره دغه معیار او میکانیزم په پام کې ونیو:
-په بېړنۍ لویې جرګې کې د استازو شمېر که هغه ځایي دي یا کوچیان، چې په هېواد کې استوګن دي باید په ګوته شي.
-جرګې ته د هغه کډوالو د استازو رابلل چې په پاکستان، ایران او یا نورو هېوادونو کې مېشت دی.
-په بېړنۍ لویه جرګه کې د دین د علماوو، روښانفکرو، سوداګرو، د ښځو او د بشري حقوقو د استازو ګډون.
-د بېړنۍ لویې جرګې خپلواک او ځانګړی کمیسون د لویې جرګې له را بللو لږ تر لږه لس (۱۰) اونۍ د مخه، د جرګې د نېټې پیل او ځای، د مودې په تړاو په ټاکلو سره خپور او نشر شي.
-بېړنۍ لویه جرګه به د انتقالي دورې د دولت رییس ټاکي.
د دې ټولو هڅو پایله دا شوه چې د هېواد ټول وسلوال به هرومرو د لنډ مهالې ادارې تر کنترول او واک لاندې وي.
د لنډ مهالې ادارې او د بېړنۍ لویې جرګې هڅې به دا وي چې د ملګرو ملتو پرېکړو او د بشر حقوقو ته ژمن وي.
دا ځکه چې افغانستان پخپله هم د ملګرو ملتو غړی دی.
لنډ مهاله اداره ژمنه ده چې د نړیوالې ترهګرۍ او مخدره توکو پر وړاندې ودرېږي، له ګاونډیو اونړیوالو هېوادونو سره ښې اړیکې ولري.
لنډ مهاله اداره او د بېړنۍ لویې جرګې خپلواک کمیسون باید د ښځو استازیتوب د بېلابېلو مذهبونو، نژادونو او لږکیو ونډه په بېړنۍ لویه جرګه کې په پآم کې ونیول شي.
لنډ مهاله اداره مکلفیت لري چې خپل ټول کړه وړه د امنیت شورۍ له پرېکړو (د نوامبر ۱۴ نېټې ۲۰۰۱ کال) سره همغږي کړي.
د بېړنۍ لویې جرګې له سپارښتنو سربېره له ملګرو ملتو نه هم وغوښتل شول چې د افغانستان ملي واکمني، د خاورې تمامیت، د افغانستان ملي یووالی او همدا راز د بهرنیو هېوادونو نه لاسوهنه، د افغانستان په کورنیو چارو کې تضمین کړي.
همدا ډول سپارښتنه وشوه چې د افغانستان په بیا رغاونه کې باید د نړۍ هېوادونه ونډه واخلي.
د عمومي ټاکنو لپاره نوملیکنه، د افغانستان سر شمېرنه، د هېواد د مجاهدینو د اتلانو پېژندنه، د ملګرو ملتو په مرسته د شهیدانو او معلولینو د کورنیو لپاره د مرستې صندوق، د ترهګرۍ او مخدره توکو د لمنځه وړلو لپاره هاندې هڅې، له بزګرانو سره مادي او تخنیکي مرستې، دا ټول هغه څه وو چې د بن په کنفرانس کې یادونه شوې وه.
د بن د خبرو مصوبه چې یوه ورځ وروسته لاسلیک شوه د ملګرو ملتو د امنیت شورا ته وسپارل شوه. د ډسمبر په «۲۰» نېټې د امنیت شورا پرېکړه وکړه چې پنځه زره سوله ساتي به هم لیږي.
د ډسمبر په ۲۲ نېټې (۲۰۰۱ کال) چې د ۱۳۸۰ کال د جدې له لومړۍ نېټې سره برابره وه د واک د لیږد نېټه هم په ګوته شوه.
د ملګرو ملتو تر څارنې لاندې، د ګاونډیو هېوادونو استازیو، د ترهګرۍ ضد ائتلاف او یو شمېر ګڼو افغانانو په ګډون د حامد کرزي په مشرۍ لنډ مهاله دولت په ټاکلې نېټې واک ترلاسه کړ، په کار یې پیل وکړ اود نړۍ هېوادونو هم اعلان وکړ چې د حامد کرزي تر مشرتابه لاندې به د افغانستان د بیا رغاونې، د سولې او بشپړ امنیت لپاره به هر اړخیزه مرسته کوي.
د لنډ مهالې ادارې په تشکیل کې دغو وزارتونو ته ځای ورکړ شوی و:
د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د پلان وزارت، د سوداګریزو چارو، معادن او صنایع، د وړو صنایعو وزارت، د اطلاعاتو کلتور، مخابراتو، د کار او ټولنیزو چارو، حج او اوقافو، د شهیدانو او معیوبینو، ښوونې او روزنې، لوړو او مسلکي زده کړو، روغتیا، فواید عامه، د کلو د پراختیا، ښاري پراختیا، د بیا ودانولو، د برښنا او اوبو، د کډوالو، کرهنې، اوبو لګولو، قضایي چارو، د ګرځندویه او هوا پېژندې وزارت، د قبایلو چارو او د ښځو چارو وزارتونه.

## د لنډ مهالې ادارې ستونزې او انګېرنې:

لکه چې وویل شول، کله چې لنډ مهالې ادارې ته واک ولېږدېده، ملګرو ملتو، د نړۍ شتمنو هېوادونو، لوېدیځوالو، د ناټو غړو هېوادونو، جاپان امریکې او پخپله د امریکې جمهور رییس ژمنه وکړه چې له افغانستان سره به سیاسي، اقتصادي او هر ډول ټولنیزې مرستې نه ځانونه و نه سپموي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولې ډېر ژر څرګنده شوه چې کورنۍ او بهرنۍ مافیا لاسونه یو کړل، له افغانانو سره یې نړیوالې مرستې داسې لوټ کړې چې ډېر ژر د میلونونو ډالرو څښتنان شول.
د همدې ناوړه مدیریت او د حکومت د ناکارۍ له امله لکه څنګه چې د ژنیو تړون له ماتې سره مخ شو، دا رنګه د بن کنفرانس هم سمې پایلې نه درلودې.
سیمې او نړۍ انګېرله چې په دغو نړیوالو مرستو به په افغانستان کې د بې کورۍ ستونزه حل شي. د شهیدانو او معلولینو کورنیو سره په ځای مرسته وشي، د ښځو د بشر د حقوقو درناوي ته به لاره پرانستل شي، ولې لکه څومره چې فکر کېده هغسې ونشول.
دولتي مافیا په لنډ وخت کې دومره پیاوړې شوه چې د مافیا څو سوو کسانو د افغانسان د دېرش (۳۰) میلوني وګړو په ستوني پښې کېښودې او پخپله د همدې فساد او لوټ له لارې مېلونونه ډالر ترلاسه کړل.
حامد کرزی په دې خوشاله و چې د هېواد جمهور رییس دی، ولې دې ته ژمن نه و چې د فساد مخه ونیسي. له ده نیولې تر مرستیالانو، کابینې غړو، ولسي جرګې، ستره محاکمه، په ټوله کې حکومت، مقننه او قضایه قوه، جهادي رهبران ټوپک سالاران، دا ټول په چور او لوټ کې له دولتي مافیا سره یو لاس ول.
نه یوازې په کور کې د ننه اختلاس، رشوت او هر ډول فساد ته لار پرانستل شوه، دا رنګه کورنۍ مافیا له نړیوالې مافیا سره یو ځای په افغانستان کې په چور لاس پورې کړ، دا چې ولې په افغانستان کې د غمیزې پسې غمیزې یو د بل پسې مینځ ته راغلې، لاملونه یې د شوروي د سرو لښکرو او د ناټو په سر کې د امریکا د وسلوالو ځواکونو بریدونه ول چې د افغانستان جګړه څو لسیزو ته وغځېده. موږ د مخه د شوروي اتحاد د برید په تړاو اوږدې خبرې په تېرو څېرکو کې وکړې، غوره به وي چې د امریکا او د ناټو د غړو هېوادونو، بریدونو ته هم سر ور ښکاره کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ